# UNDP افغانستان ته لنډه کتنه



دملـــگـــرو ملتـــونوپـــرمختـــیـــاي اداره
www.af.undp.org

دUNDP توجه په بشري پر مختګ او یو قوي افغانستان باندې ده. UNDP د افغانستان د سولې او پرمختګ د هڅو نه په لاندې برخو کې ملاتړ کوی:

۱ دباوري او عادلانه ټولټاکنو دتیاري په برخه کې دمرستې په ګډون،په هره کچه دافغان ټولنې قانوني سیاسي پوهې ته وده ورکول

۲ دټیکاو، دولسي حکومت دغښتلتیا او دثبات لرونکي اقتصادي او ټولنیز پرمختګ په موخه دوړتیاوو لوړول

۳ د قانون دحاکمیت پیاوړتیا ، دبشري حقونو رعایت او قانوني او قضایي خدمتونو ته پوره لاس رسی

٤ په قانوني، اقتصادي، ټولنیزاو سیاسي برخوکې دښځو پیاوړتیا

٥ دملی او سیمه ایزو ادارو د وړتیا لوړول ترڅو وکولای شي چه اړین خدمتونه سرته ورسوي او ډاډمن اوسي چه ترلاسه شوي پرمختګونه به دوام ومومي

٦ په داسې ډول دطبیعي زیرمو اداره کول چې بېوزلي کمه او د افغانستان دخلکو په ژوند کې سمون رامنځته او هم ددې ډاډ رامنځته کول چې اقتصادي پرمختګ د چاپیریال ساتنه خوندي کوي

دMDGs زریزې دپرمختګ ۸ هدفونه
چې دنړیوالو رهبرانو لخوا پرې موافقه شوې:




* افغانستان دامنیت خوندي کول هم د زریزې موخو ته ورزیات کړل

**طرح او ډیزاین:** سید عمر سادات

## د UNDP فغانستان په هکله

UNDP په افغانستان کې هڅه کوي ترڅو داسې بنیادي بدلون رامنځته کړي چې هر افغان نارینه او ښځه، زوړ او ځوان له بې وزلۍ او بې امنۍ څخه دآزادۍ په لور روان کړي.
UNDP له افغانستان سره دهغو لومړیتوبونو دترلاسه کولو په برخه کې مرسته کوي چې دافغانستان دپرمختګ په ملي ستراتیژۍ ، د ملي لومړیتوبونو پروګرام او همدا رنګه نړیوال پرمختیایی چوکاټ او د زریزې پرمختیایي موخی ، او د ضعیفه مدیریت او خطر سره مخامخ هېوادونو کې د ورګډېدو نوې تګلاره او نورو نړیوالو موافقو مطابق چه افغانستان په کې ونډه اخلي، په اساس طرح شوي دي.

دملګرو ملتونو پرمختیا یی اداره (UNDP) دافغانستان له دولت او خلکو سره په شریکه، دافغان نارینه او ښځو دژوند دښه کېدو او هیواد د پر مختګ لپاره کار کوي. د ملګرو ملتونو پرمختیایی اداره (UNDP) په خپلو ټولو فعالیتونو کې، بشري حقونو، دنارینه او ښځو ترمنځ برابرۍ (جندر) اود بېوزله او غریبو کسانو مصئونیت ته وده ورکوي.

## محـــــــتویـــات:

په ۲۰۱۴ کال کې دنړیوالو سوله ساتو ځواکونو (ISAF) وتل او ورسره په همدې کال کې دولسمشرۍ ټاکنو ، افغانستان د بدلون په حالت کې راوستی . افغاني ادارې به د هیواد د ټولوامنیتي، اقتصادي او پرمختیایی چارو مشري په غاړه ولري.

افغانستان لا اوس هم د دریو لسیزو د کړکیچ او د تکراري طبیعي پېښو څخه دراوتو په درشل کی دی. د۲۰۰۱ کال راهیسې دژوندي پاتېکېدو توقع ، روغتیایي او تعلیمي آسانتیاوو او د چټکې اقتصادي ودې په برخه کې د پام وړ پرمختګ شوی دی. له پنځه ملیونو څخه ډېر افغان کډوال خپلو کورونو ته راستانه شوي دي. د هېواد شپېته سلنه هغه ځوانان تشکیلوي چې عمرونه یې له ۲۰ کالو کم دي.

که څه هم چې دغه هېواد د دملګرو ملتونو د بشري پر مختګ په لست کې د۱۸۷ هېوادنو په قطار کې په ۱۷۵ قطار کې موقعیت لري. د بې وزلۍ کچه پکې ۳۶ سلنه ده ، دا په دې مانا چې نژدې ۹ ملیونه افغانان کافي خواړه نه لري چې فعال او ښه ژوند پرمخ یوسي. ۷۵سلنه وګړي یې نا لوستي دي.

د۲۰۰۴ کال اساسي قانون دښځو لپاره دمساوي حقونو ضمانت کړی چې د ملي شورا (پارلمان) ۲۷ سلنه چوکۍ یې ترلاسه کړې دي. مګر یوازې ۱۲ سلنه ښځې باسواده دي او لا هم د تبعیض او تاوتریخوالي ښکار دي.

د ګواښونو سربیره، ۶۰ سلنه افغانان وایي چې هېواد یې په سم لوري روان دی. ددې لپاره چې د دوی د هڅو ملاتړ و شي، UNDP به له افغان حکومت او خلکو سره چه د خپل هیواد د بیا رغونې او ژوند د سمون لپاره کار کوي د حکومتوالی، د قانون په پلي کولو، د ښځو په پیاوړتیا او بیوزلی د کمولو لپاره ملاتړ ته دوام ورکړي.

Empowered lives.
Resilient nations.


دملګرو ملتونوپرمختیایی اداره
افغانستان
د UNDP مرکزي دفتر
دپست بکس شمېره: ۵
دملګرو ملتونو دفتر
(UNOCA Complex)
دجلال آباد سړک
کابل، افغانستان

www.af.undp.org

Facebook.com/UNDPinAfghanistan
Twitter.com/UNDPAf
Youtube.com/UNDPAfghanistan
Gplus.to/UNDPinAfghanistan

عکسونه: دملګرو ملتونوپرمختیایی اداره

OCTOBER 2013






**په سياسي ډګر کې دښځو برخه اخيستنه**
• ولسي حکومت والي
بلخ

دبلخ، جوزجان، سرپل، سمنګان او فارياب ولايتونو د ولايتي شوراګانو ښځينه غړو دUNDP په دملاتړ د ولايتي شوراګانو دښځينه غړو د تجربو د شريکولواو په سيمه ايزه کچه دپرمختګ په برخه کې دخپل رول د پياوړتيا په موخه د ښخو يوه شبکه جوړوي.



**دلازياتو ونو روزنه**
• حياتي تنوع
پروان

UNDP په بشپړه توګه دافغانستان د پرمختګ په بهيرکې تلپاتې چاپيريال ساتنې ته وده ورکوي.



**دسواد زده کړه**
• دبې وزلۍ کمول
ننګرهار

د UNDP په مالي مرسته ۳،۲۳۹ ښځو او نجونوته د لاسي صنايعو ديوې پروژې له لارې دغوره معيشت په موخه دسواد زده کړه ورکړل شوه.



**دافغانستان دملي پوليسو روزنه**
• د بحران مخ نيوی او خلاصون
کابل

نژدې ۱،۰۰۰ تنه دپوليسو افسرانو په ترکيه کې دپوليسو په يوه روزنيز مرکز کې شپږمياشتينۍ زده کړې پای ته ورسولې. ددغه پروژې مالي ملاتړ د UNDP د (لتفا) پروګرام ، جاپان او دشمالي اتلانتيک له طرفه شويده.



**دولسوالۍ پرمختيايي شورا**
• دموکراتيکه حکومت والي
کاپيسا

UNDP د۴۰۲ ولسواليو څخه د ۳۸۸ولسواليو دپرمختيايي شوراګانو جوړولو کې مرسته کړې ده. هره شورا د ۳۰ کسانو څخه جوړه ده چې له دې جملې څخه ۱۰ يې بايد ښځې وي. شورا په ولسوالۍ کې د پرمختيايي پروژو د پلان په اړه بحثونه کوي.



**دبرېښنا دکوچنيو بندونو رغونه**
• برېښنا
باميان

د UNDP په مالي مرسته دبرېښنا ديوه بند دجوړېدو په پايله کې دباميانو په يوه کلي کې ژوند ښه شوی دی.



**ددوامداره معيشت رامنځته کول**
• دځمکې ساتنه
هرات

دهغه استنادي ديوال د رغېدو په پايله کې چې د UNDP د يوې پروژې لخوا جوړ شوی ، بزګرکولی شي خورا ډيررومي بانجان ترلاسه کړي « خلک بيا په هغو ځمکو کې کار کوي چې له لاسه يې ورکړې وي او شوديارہ پرتې وې» بي بي ګل يوې بزګرې وويل.



**دسولې پروسې سره د پخوانيو جګړه مارو بيا يوځای کيدنه**
• د سولې ټينګښت
کندهار

د ۲۰۱۰ کال راهيسی، د ملګرو ملتونود پرمختيايي پروګرام په مرسته ټول هيواد کی ۷۲۲۰ جګړه مار چې په دې کې محلي قومندانان هم شامل دی د جګړی نه لاس په سر شوي ، اساسي قانون يې منلې او د ټولنی د يو فعال وګړی په څير خپل عادی ژوند ته دوام ورکوي . په انځور کی د کندهار يو پخواني جګره مار خپله وسله تسليموي.

## زموږ کار

## پايلې

په افغانستان کې د *UNDP* تر پوښښ لاندې سيمو کی د ځينو پروژو په بشپړيدو سره غوره پا يلې تر لاسه شوې چې ځينې بيلګې يې يې په لاندې ډول دي:

### ١ مشارکتي او قانوني سياست ته وده ورکول

دټاکنو له خپلواک کميسيون سره داغيزمنو اوعادلانه ټاکنو د ترسره کولو په برخه کې مرسته کول چه ډير خلک پکی ګډون وکړي..

### ٢ د ظرفيتونو لوړول

دکرنې مالدارۍ او اوبو لګولو له وزارت سره دکوکنارو دغيرقانوني کرکيلې پرځای د زعفرانو د رواجولو په موخه دملي پاليسۍ په جوړولو کې مرسته کول او زعفران د ترياکو متبادل ګرځول.

### ٣ دقانون واکمني

د «محلي پوليسو» ترنوښت لاندې دخلکو اودولت ترمنځ د باور د رامنځته کېدو په موخه دپوليسو او خلکو ترمنځ اړيکو ته وده ورکول.

### ٤ دښځو پياوړتيا

د ۲۰۰۷ کال را په دی خوا د جنسيت او نوروتاوتريخوالو دقربانيانو لپاره په څلورو ولايتونو کې دمرستې ۲۴ مرکزونو جوړول. دغه پروګرام وسعت مومي او په ۱۹ ولايتونو کې پلي کيږي.

### ٥ په محلي کچه د فعالو ادارو جوړول

په ولايتي کچه د۲۶ پرمختيايی پلانونو په جوړولو کې مرسته، او په ولايتونو کې په پرمختيايی او سياسي چارو کې د برخه اخيستنې اسانتيا برابرول.

### ٦ ښه معيشت ته وده ورکول او دطبيعي زيرمو اداره کول

د ۲۰۰۲ کال را په دی خوا د۳۱۸۶ پروژو په بشپړېدو سره ۵،۵ مليونه څخه زيات دکار ورځې رامنځته شوې دي. تقريباً ۴.۲ مليونه وګړي غوره ترانسپورتي اسانتياوو ته لاسرسی لري.